# ځينې وختونه زمونږ زړونو ته داسې خبرې راځي چې ډېره سخته ده چې په اړه يې خبرې وکړو، هغه وفرمایل: «آيا داسې څه مو حس کړي دي؟» هغوی وويل: هو، ويې فرمایل: همدا څرګند او روښانه ایمان دی

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: جَاءَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلُوهُ: إِنَّا نَجِدُ فِي أَنْفُسِنَا مَا يَتَعَاظَمُ أَحَدُنَا أَنْ يَتَكَلَّمَ بِهِ، قَالَ: «وَقَدْ وَجَدْتُمُوهُ؟» قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: «ذَاكَ صَرِيحُ الْإِيمَانِ». د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له صحابه کرامو څخه يو څه خلک راغلل او ورڅخه يې پوښتنه وکړه چې ځينې وختونه زمونږ زړونو ته داسې خبرې راځي چې ډېره سخته ده چې په اړه يې خبرې وکړو، هغه وفرمایل: «آيا داسې څه مو حس کړي دي؟» هغوی وويل: هو، ويې فرمایل: همدا څرګند او روښانه ایمان دی».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو يوه ډله راغله او له هغه څخه يې پوښتنه وکړه چې دوی کله په خپلو زړونو کې د داسې لويو - خبرو - احساس کوي چې سخته ده ورته په اړه يې خبرې وکړي، څکه چې هغه خورا بدې خبرې دي او دوی ورڅخه کرکه لري. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه څه چې تاسو موندلي دي روښانه ایمان او يقين دی چې تاسو هڅوي د هغه څه مخه ونيسئ چې شيطان يې په زړه کې در اچوي، نو تاسو يې له ويلو انکار کوئ او په زړه کې درته ډېره لويه تماميږي چې په اړه يې خبرې وکړئ، او يقينا چې شيطان ستاسو په زړونو باندې واک نه دی ترلاسه کړی، د هغه چا په څير چې شيطان يې په زړه قبضه کړې وي او له ځان سره داسې هيڅ شی نه لري چې دفاع پرې وکړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65011